انتخاب از : آصفه خلیل مسعودی

۱۳ فبروری ۲۰۰۹

# لنـــــدی

(دوهمه برخه)

په مخ می سپینی اوښکی راشی
چه را په یاد شی د آشنا د خوړی لوزونه

******

ما د جانان سره وفا کړه
جانان په نیمه لار کی پریښودم مینه

******

د زړه غمونه می تازه شوه
چه می رقیب د یار کوخه کی ولیدنه

******

لنګی د سمه په سر کیږده
د کلی خلک د کبرجن بولی لالیه

******

په ما د ښکی لوبی وکړی
تندی ما ته د هر چا محتاجه شمه

******

زما په تا سترګی خوړی شوی
څکه می واخیسته د هر چا نه لاسونه

******

راته مالوم شوی خوښ می نکړی
برباد می لاړه د ټول عمر خدمتونه

******

هلک دیدن دی راته سخت شو
پلار دی د کلی مینځ کی جګ کړل دیوالونه

******

آښنا دیدن ته می لږ راشه
د عزرائیل سره می شپه ده ، نه درځمه

******

نور آخر مصراع به دا وی
چه بی له تا نه بل آښنا نه قبلومه